د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز


# تحلیل هفته

**ګڼه: 469**

(23 - 30 کب 1403 هـ ش)

## د تورخم دروازې تړل کېدل؛ لاملونه او اغېزې يې

---




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- د تورخم دروازې تړل کېدل؛ لاملونه او اغېزې يې ........................................ 3
- د تورخم دروازې د تړلو لاملونه ........................................................... 3
- د دواړو هېوادونو پر سياسي اړيکو يې اغېزې ........................................... 6
- د دواړو هېوادونو پر اقتصادي اړيکو يې اغېزې ......................................... 6
- پایله ............................................................................................. 8
- وړاندیزونه ....................................................................................... 8
- مأخذونه .......................................................................................... 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د تورخم دروازې تړل کېدل؛ لاملونه او اغېزې یې

### سریزه

د ۲۰۲۱ز. کال د اګست په میاشت کې د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته څو ځلې د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ په تورخم او یا هم سپین بولدک کې ستونزې رامنځته شوي او د خلکو د تګ او راتګ په ګډون د سوداګرۍ په موخه هم څو ځلې دروازې تړل شوي، چې د دواړو لوریو سوداګرو ته یې مالي زیان اړولی دی. د ۲۰۲۳ز. کال د فبرورۍ په میاشت کې د اسلامي امارت له لوري د تورخم دروازه د هر ډول تګ-راتګ او سوداګرۍ لپاره وتړل شوه، دغه دروازه درې ورځې بنده وه او د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري ورسره په ټپه ولاړه وه او د دواړو هېوادونو ترمنځ پر اقتصادي اړیکو یې هم منفي اغېزه وکړه. د پاکستان او افغانستان د ګډې سوداګرۍ او صنعت خونې مشر سید ضیاالحق سرحدي په وینا هغه مهال د تورخم د دروازې تړلو له امله دواړه لوریو ته ۶۰۰۰ ټیلرې او لوی ګاډي بند پاتې وو چې دواړو لوریو ته یې میلیونونه ډالر زیان اړولی دی. د اسلامي امارت د چارواکو په وینا دروازه یې له دې امله تړلې چې پاکستاني لوري د ټرانزیت او ناروغانو د پرېښودو په برخه کې په خپلو وعدو وفا نه کوله.[1] د همدغو سرحدي او سوداګریزو شخړو د حل په موخه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بهټو زرداري د ۲۰۲۳ز. کال د مۍ په میاشت کې په اسلام اباد کې سره وکتل او دواړه لوري دې هوکړې ته ورسېدل چې دوه اړخیزې سوداګرۍ ته به پراختیا ورکوي، د ترهګرۍ په خلاف به سره جګړه کې همکاري کوي او سرحدي اندېښنې به پای ته رسوي.[2]

د دې ترڅنګ د ۲۰۲۳ز. کال د نومبر په میاشت کې هم دغه دروازه د پاکستاني پوځیانو له لوري وتړل شوه او لامل یې د پاکستاني پوځیانو له لوري د افغان موټر چلوونکو څخه د ویزې او پاسپورټ غوښتنه وه چې د اسلامي امارت د پوځیانو له لوري ورسره په دې اړه شخړه شوې وه او بیا پاکستاني لوریو دغه دروازه وتړله.[3]

اوس تازه د ۲۰۲۵ز. کال د فبرورۍ میاشتې له ۲۱مې نېټې څخه تراوسه پورې د تورخم دروازه تړل شوې ده، چې له یوې خوا یې د دواړو هېوادونو پر اړیکو منفي اغېزه کړې او له بلې لوري افغان سوداګرو میلیونونه افغانۍ زیان لیدلی دی. په دغه تحلیل کې به د دغې دروازې د تړل کېدو پر لاملونو او اغېزو بحث وکړو.

### د تورخم دروازې د تړلو لاملونه

د تورخم دروازې تړل کېدل بېلابېل لاملونه لري چې ځینې یې دلته بحث کوو:

**۱- د نظامي پوستو جوړول**: د ډیورنډ پر کرښه افغانستان او پاکستان دواړه هڅه کوي چې نظامي پوستې جوړې کړي او په دغه برخه کې پاکستاني لوری ډېر مخکښ دی. د دغې نظامي پوستو له جوړولو څخه پاکستانی لوری دوه بنسټیزې موخې لري: لومړی، پاکستان تل پر افغانستان تور پورې کړی چې په دغه هېواد کې د پاکستان ضد ډلې پټنځایونه لري، دلته ټرننګ اخلي او بیا له ډیورنډ کرښې راتېرېږي او پر

پاکستان کې بریدونه کوي، نو د همدغه ډلو یا خلکو د مخنیوي په موخه پاکستان پر دغه کرښه نظامي پوستې جوړوي تر څو دوی وڅارلی شي. دویم بنسټیز لامل یې پر دغه کرښه او خاوره د خپل حاکمیت ښودل دي تر څو افغان لوري او نړیوالو ته وښايي چې د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ رسمي پوله ده او دوی د خپلو پوستو له لارې دغه پوله کنټرولوي.

د تورخم دروازې د تړل کېدو یو لامل چې افغان حکومت ښودلی هغه د پاکستاني ځواکونو له لوري دغې دروازې ته څېرمه د پوستې جوړول ښودل شوي دي، هغوی وايي چې زموږ هوکړه په دې شوې چې هر څوک چې نوې تاسیسات جوړوي باید مقابل لوري ته خبر ورکړي، خو پاکستاني ځواکونو پر پوسته کار کاوه او موږ ته یې خبر نه و راکړی. همدارنګه پخوا هم له دې امله پر دغه دروازه نښتې رامنځته شوې دي، یعنې ځینې وخت پاکستاني لوریو هم دعوه کړې چې افغان ځواکونه پر دغه دروازه پرته له دې چې دوی ته خبر ورکړي پوستې جوړې کړې دي چې  له امله یې پاکستاني لوریو غبرګون ښودلی او له امله یې دغه دروازه تړل شوې ده.[4]

**۲- امنیتي اندېښنې:** د تورخم دروازې د تړل کېدو یو بنسټیز لامل د پاکستان امنیتي اندېښنې دي، پاکستان دعوه کوي چې د تحریک طالبان پاکستان یا TTP غړي او ملاتړي له افغانستان څخه راځي او په پاکستان کې بریدونه کوي. پاکستان دعوه کوي چې د افغانستان اسلامي امارت د TTP څخه ملاتړ کوي، دوی ته په افغانستان کې پټنځایونه برابروي، په پاکستان کې د دوی له بریدونو ملاتړ کوي او تر دې چې افغان طالبان خپله د TTP په لیکو کې د پاکستان د حکومت خلاف جنګیږي[5] او د دوی اکثره تګ او رتګ د تورخم په دروزاه دی.

پاکستاني څېړونکي په دې اند دي چې په افغانستان کې د اسلامي امارت بیا واکمنېدو د TTP په هڅونه او تحریک کې مهم رول اداء کړ او له دوی سره هم هیله پیدا شوه چې په پاکستان کې اسلامي نظام حاکم کړي،[6] له همدې امله یې بریدونه زیات کړل. د رسمي شمېرو له مخې په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنی څخه تر ۲۰۲۳ز. کال د اګست میاشتې پورې د TTP په بریدونو کې ۶۰ سلنه زیاتوالی راغلی چې په پایله کې ۲۳۰۰ پاکستاني نظامیان او ملکیان وژل شوي،[7] یوازې په خیبرپختونخواه کې ۳۰۰ بریدونه شوي، چې د اکثرو مسؤولیت TTP پر غاړه اخیستی دی.[8] همدارنګه د جنوبي اسیا د ترهګرۍ بنسټ وايي: پر ۲۰۲۳ز. کال په پاکستان کې ۴۱۸ بریدونه شوي، چې دا شمېره په ۲۰۲۲ز. کال کې ۳۶۵ وه.[9] الجزیرې بیا په ۲۰۲۳ز. کال کې په ټول پاکستان کې د بریدونو شمېر ۶۵۰ ښودلی دی.[10]

د ۲۰۲۳ز. کال د جولای په میاشت کې په باجوړ کې پر یوه غونډه برید وشو چې له امله یې له ۵۴ څخه زیات کسان مړه شول. پاکستاني حکومت، په ځانګړي ډول د پوځ مشر جنرال عاصم منیر دعوه وکړه چې په دې پېښه کې افغاني تابعیت لرونکو لاس درلود او دوی له افغانستان څخه راغلي وو. د پاکستان لوړ پوړو چارواکو د دې پېښې پرې د اسلامي امارت پر حکومت واچوله او دغه حکومت یې تورن کړ چې دوی نشي کولای وسلوال کنټرول کړي تر څو د ډیورنډ له فرضي کرښې راتېر نشي.[11] د افغانستان اسلامي امارت دغه ټول تورونه ردوي، د


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي دا د اسلامي امارت خلاف تبلیغات ګڼي او وايي چې په افغانستان کې هېڅ داسې ډلې نشته چې هغه د سیمې هېوادونو امنیت ته ګواښ پېښ کړي.[12] د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د پاکستان د تورونو په رد کې وايي: «پاکستان د دې پرځای چې خپل امنیت ټینګ کړي یو ځل بیا یې افغانستان تورن کړ. اسلامي امارت تاکید کوي چې دوی د دې ډول پېښو حمایت نه کوي، بلکې غندي یې، خو دا د اسلامي امارت مسؤلیت نه دی چې په پاکستان کې د بریدونو مخنیوی وکړي، بلکې پاکستان باید خپل امنیت پخپله ټینګ کړي.»[13] لنډه دا چې د تورخم د دروازې د بندېدو یو لامل د پاکستان امنیتي اندېښنې دي او دوی فکر کوي چې په پاکستان کې ترسره شویو بریدونو کې لاس لرونکي له همدغې دروازې راتېر شوي او دلته یې عملیات کړي دي او له همدې امله چې ځینې وخت امنیتي اندېښنې ډېرې شوي پاکستاني حکومت د تورخم دروازه تړلې ده، خو افغان حکومتونه هیڅکله دغه ادعاوې نه مني او وايي چې د افغانستان خاوره هیڅکله د پاکستان پرخلاف نه استعمالیږي او هلته په ترسره شویو بریدونو کې دوی لاس نه لري.

البته دلته یوه یادونه اړینه ده چې سره له دې چې پاکستان د امنیتي اندېښنو یادونه کوي او ځینې وخت له همدې امله د تورخم په دروازه کې ستونزې جوړوي، خو زموږ له نظره دا د پاکستاني حکومت له لوري هسې بهانه ده، لومړی خو په پاکستان کې برید کوونکي ټولې ډلې همله مېشته دي او که احیاناً د افغانستان له خاورې ځوک ځي، نو هغوی هیڅکله د تورخم دروازه د تګ او راتګ لپاره نه کاروي بلکې هغوی په نورو قاچاقي لارو ځي او د امنیتي اندېښنو له امله د تورخم دروازه تړل یوازې په امنیتي برخه کې پر افغان حکومت د خپلو غوښتنو د منلو یوه وسیله ده.

**۳- د سیاسي فشار یوه وسیله:** د تورخم د دروازې د بندېدو بل لامل کېدای شي د پاکستان له لوري پر افغانستان د فشار د واردولو یوه وسیله وه. د اسلامي امارت له واکمنۍ راهیسې پاکستان څو ځلې له اسلامي امارت څخه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د TTP په مقابل کې په افغانستان کې پراخ عملیات وکړي[14] او یا هم د دوی او د TTP ترمنځ منځګړیتوب وکړي. سره له دې چې اسلامي امارت د TTP او پاکستان ترمنځ منځګړیتوب وکړ او هغه پر یو تړون منتج هم شو، خو دغه تړون ډېره ادامه پیدانکړه. پاکستان غواړي له بېلابېلو لارو پر اسلامي امارت فشار راوړي تر څو د TTP له ملاتړ څخه لاس واخلي او یا یې په خپله خاوره کې پټنځایونه له منځه یوسي او د فشار د دغو وسایلو له ډلې څخه یو هم د تورخم د دروازې تړل او یا هم پاکستان د افغانانو د تګ او راتګ پر وړاندې د خنډونو جوړول دي.

**۴- د اقتصادي فشار یوه وسیله:** د تورخم د دروازې د تړلو کېدو بل لامل دا هم دی چې پاکستان غواړي پر افغان سوداګرو د فشار د واردولو له لارې د افغانستان اقتصاد ته ضربه ورکړي. ډېر کله داسې شوي دي چې کله د پاکستاني میوو او سبزیجاتو وخت راورسېږي، نو پر تورخم دروازه اساني راشي او کله چې د افغانستان د میوو او سبزیجاتو وخت راورسېږي، نو له یوې خوا د تورخم پر دروازه ډریورانو ته ستونزې جوړوي، پاسپورټ او ویزې ترې غواړي، کله د تالاشۍ پرمهال ورته ستونزې جوړوي او کله هم د نورو اسنادو پرمهال او له بلې خوا ځینې وخت



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دروازه تړي چې له امله يې د افغان سوداګرو موټرې په ورځو ورځو ولاړې وي او په کې پرتې ميوې او سبزيجات له استفادې وځي او افغان سوداګر له سختو مالي زيانونو سره مخامخ شي.

## د دواړو هېوادونو پر سياسي اړيکو يې اغېزې

اسلامي امارت د خپلې واکمنۍ په لومړۍ دوره کې له پاکستان سره نږدې اړيکې درلودې، د متحده عربي امارتو، سعودي عربستان په ګډون پاکستان هغه هېواد و چې د افغانستان اسلامي امارت يې په رسميت پېژندلی و،[15] په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت بیاواکمنۍ ته پاکستان خوښ و چې د نورو لاملونو ترڅنګ يې يو ستر لامل په افغانستان کې د هند د نفوذ پای ته رسېدل و او غوښتل يې چې له اسلامي امارت سره ښې اړيکې ولري، پاکستان په اسلام اباد کې افغان سفارت اسلامي امارت ته وسپاره او په کابل کې يې هم خپل سفارت پرانېستی پرېښود، په لوړه کچه د دواړو هېوادونو استازو د يو او بل هېواد ته سفرونه وکړل او داسې تمه کېده چې د دواړو هېوادونو اړيکې به ډېر ښه راتلونکی ولري، خو په وروستيو کې د نورو دلايلو ترڅنګ د د دواړو هېوادونو ترمنځ په اېښودل شويو دروازو او په ځانګړي ډول تورخم کې د ستونزو او نښتو د رامنځته کېدو له امله د دغې دروازې تړل کېدو د دواړو دولتونو پر سياسي او اقتصادي اړيکو منفي اغېزې کړې دي،[16] پر سياسي اړيکو يې منفي اغېزه دا ده چې پاکستان د اړيکو د خرابېدو څخه مخکې په بېلابېلو نړيوالو سټېجونو د اسلامي امارت دفاع کړې، په سيمه ييزه کچه يې د سيمې د هېوادونو سره په ګډه په افغانستان کې د حکومت د پياوړتيا لپاره هلې ځلې کړې او پر سياسي لحاظ يې داسې کومه کړنه نه ده ترسره کړې چې هغه د اسلامي امارت حيثيت ته صدمه ورسوي او د رسميت پېژندنې پر وړاندې خنډ رامنځته کړي، خو کله چې اړيکې خرابې شوې، نو پاکستان په بېلابېلو نړيوالو سټېجونو پر اسلامي امارت تور پورې کړې چې دوی په پاکستان کې د تحريک طالبان پاکستان څخه ملاتړ کوي او د افغانستان خاوره د دوی پر ضد کارول کېږي، همدارنګه په سيمه ييزه کچه د افغانستان په اړه په سيمه ييزو غونډو کې د ټولشموله حکومت او بشر حقوقو قضيه هم مطرح کوي، همدارنګه په دې ورستيو کې يې د نجونو د تعليم په اړه د اسلامي نړۍ د عالمانو د يو غونډې کوربتوب وکړ او له لارې اعلان کړه چې د نجونو تعليم روا او فرض دی او له دې غونډې يې هم پر اسلامي امارت د فشار واردولو هڅه وکړه، لنډه دا چې د تورخم دروازې د تړلو او په دغه دروازه کې د نښتو د رامنځته کېدو له امله سياسي اړيکې اغېزمنې شوې دي.

## د دواړو هېوادونو پر اقتصادي اړيکو يې اغېزې

د تورخم دروازې تړل کېدل د پاکستان او افغانستان پر اقتصادي اړيکو هم اغېزه کړې ده چې دغه اغېزې د دوه اړخيزې سوداګرۍ، ټرانزيټ او اقتصادي زيانونو په برخه کې مطالعه کوو:

**۱- پر دوه اړخيزې سوداګرۍ يې منفي اغېزې**



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د تورخم دروازې تړل کېدل د دوا‌ړو لوريو پر دوه اړخيزه سوداګرۍ هم منفي اغېزې لرلاي شي، ځکه هر څومره چې سرحدي شخړې زياتېږي او دروازې تړل کېږي له يوې خوا مالي زيانونه رامنځته کېږي او له بلې خوا سوداګري اغېزمنېږي. که موږ د اسلامي امارت د لومړيو کالونو او د ۲۰۲۴ز. کال دوه اړخيزې سوداګرۍ ته وګورو، نو معلومېږي چې په دغه کال د دوه اړخيزې سوداګرۍ کچه راټيټه شوې ده او لامل يې په ۲۰۲۳ز. کال کې د سرحدي شخړو زياتېدل و چې په ۲۰۲۴ز. کال يې اغيز وکړ او سوداګرو د بديلو لارو په لټه کې شول او يا يې هم د زيان د ګواښ له امله خپله سوداګري راکمه کړې ده.

۱۴۰۱ هـ.ل. (۲۰۲۲ز.)کال کې د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخيزه سوداګري دوه میلیارده، دري سوه دري څلوېښت میلیونه، شپږ لکه شپېته زره او شپږ سوه شپږ اويا (۲۳۴۳٦٦۰٦۷۰) ډالره وه[17] چې په ۱۴۰۲ هـ.ل. کال (۲۰۲۳ز.) کې د دوه اړخيزې سوداګرۍ دا کچه نږدې دوه نيم ميلياردو ډالرو ته ورسېده،[18] خو په ۱۴۰۳ هـ.ل. (۲۰۲۴ز. کال) کې د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت د راپور پر بنسټ د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخيزه سوداګرۍ يو ميليارد او شپږ سوه ميليونه ډالرو ته رابنکته شوه[19] چې د سوداګرۍ د کچې دا کموالی د نورو لاملونو ترڅنګ يو لامل يې سرحدي شخړې دي او د تورخم د دروازې اوسنی بنديز چې نږدې شل ورځې يې پوره کېږي کېدای شي په ۲۰۲۵ز. کال کې د دواړو هېوادونو د دوه اړخيزې سوداګرۍ کچه نوره هم راټيټه کړي.

## ۲- پر ټرانزيټ يې اغېزې

په ۲۰۱۰ز. کال کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د اپټا ( Afghanistan-Pakistan Transit Trade Agreement(APTTA)) تړون د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ وزيرانو لاسليک کړ. دغه تړون چې ۵۸ مادې لري د اسلامي امارت د اوسنۍ واکمنۍ پرمهال هم نافذ دی. د دې تړون پر بنسټ دواړه هېوادونه کولای شي چې د يو او بل خاورې ته لاسرسی ولري او د ټرانزيټي سوداګرۍ په موخه ترې ګټه واخلي، د دې تړون پر بنسټ افغانستان د پاکستان دريو لويو بندرونو (کراچۍ، ګوادر او قاسم) او دوو هېوادونو، چين ته د سوسټ/تاشقرغان له لارې او هند ته د واګه پولې له لارې ټرانزيټي لاسرسی پيداکوي. همدارنګه پاکستان کولای شي چې د افغانستان د اسلام قلعه او زرنج له لارې له ايران سره، د حيرتان له لارې ازبکستان سره، د شېرخان له لارې تاجکستان سره او د اقينه او تورغونډۍ له لارې ترکمنستان سره وصل شي او ټرانزيټ ترسره کړي.[20] د دې تړون پر بنسټ او يا هم په عملي ډول افغانستان د کراچۍ او ګوادر بندرونو ته تر ډېره د تورخم له لارې لاسرسی پيداکوي او پاکستان هم مرکزي اسيا ته د لاسرسي لپاره تر ډېره د تورخم له لارې ګټه اخلي، نو که د تورخم لاره بنده وي او يا هم په دغه لاره کې شخړې او ستونزې ډېرېږي، نو د دواړو هېوادونو ترمنځ ټرانزيټي ستونزې هم ډېرېږي چې دا به د دواړو هېوادونو پر اقتصادي وضعيت او اړيکو سخت منفي اغېزه وکړي.

## ۳- د اقتصادي زيانونو رامنځته کېدل

د تورخم د دروازې تړل کېدل د دواړو هېوادونو سوداګر له سختو مالي زيانونو سره مخامخ کوي چې له امله يې د دواړو هېوادونو پر اقتصادي وضعيت هم منفي اغېزه کوي او طبعي ده چې له امله به يې اقتصادي



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اړیکې هم ورسره اغېزمنېږي. په ۲۰۲۳ز. کال کې د تورخم دروازې د تړلو له امله د پاکستان او افغانستان د ګډې سوداګرۍ او صنعت خونې مشر سید ضیاالحق سرحدي په وینا دواړه لوریو ته ٦۰۰۰ ټېلرې او لوی ګاډي بند پاتې وو چې دواړو لوریو ته یې میلیونونه ډالر زیان اړولی دی. د خیبر پختونخواه د سوداګرۍ خونې مشر یوسف افریدي په وینا په ۲۰۲۵ز. کال د فبروۍ میاشتې له ۲۱مې څخه تراوسه پورې د دغې دروازې د بندېدو له امله پاکستان نږدې ۱۵ میلیونه ډالره زیان لیدلی دی. د دې ترڅنګ د ننګرهار د سوداګرۍ خونې اجرایوي مشر شاکرالله صافي په وینا افغان سوداګر د تورخم دروازې د بندېدو له امله هره ورځ پنځه سوه زره ډالر زیان ګوري.[21] یعنې په دې شل ورځو کې افغانستان نږدې لس میلیونه ډالر زیان لیدلی او دواړو لوریو ته د دې دروازې د تړل کېدو له امله ۲۵ میلیونه ډالر زیان رسېدلی دی. د دغه ډول اقتصادي زیانونو رامنځته کېدل په لوړه کچه د دواړو هېوادونو اقتصادي اړیکې زیانمنولی شي.

## پایله

د تورخم دروازه پاکستان او افغانستان دواړو ته یوه مهمه ستراتیژیکه لاره ده. دغه لاره د ټرانزیت، سوداګرۍ او ګمرکي عاید له اړخه دواړو لوریو ته ډېره مهمه ده. د تورخم دروازه د امنیتي اندېښنو، د نظامي تاسیساتو جوړېدو او ځینې وخت د پاکستاني حکومت له لوري فشار د راوړلو په دلیل تړل شوې ده. د دغې دروازې د تړلو له امله دواړو لوریو ته ځاني او مالي زیانونه اوښتي دي، پاکستاني لوریو نږدې ۱۵ میلیونه ډالر او افغاني لوري نږدې ۱۰ میلیونه ډالر په دې تېرو شلو ورځو کې مالي زیان لیدلی دی. د مالي زیان ترڅنګ په تورخم دروازه کې دغه ډول پېښې د دواړو هېوادونو پر سیاسي اړیکو منفي اغېزې لري او کله هم چې یو ګاونډي هېواد سره سیاسي اړیکې خرابېږي دا د دواړو هېوادونو پر امنیتي او اقتصادي وضعیت منفي اغېزې ښېندي، ځکه په نړیوالو اړیکو کې مشهور مقوله ده چې وایي: ته نه شې کولای چې خپله جغرافیه او ګاونډی هېواد بدل کړې، خو کولای شې چې خپل تعامل او سیاست بدل کړې تر څو له خپل ګاونډي هېواد سره یې له لارې اړیکې ښې کړې. لنډه دا چې د تورخم د دروازې بندېدل د دواړو لوریو په خبر نه دي، سره له دې چې په دې وروستیو کې د دواړو اړخونو ترمنځ یو قومي جرګه وشوه او له لارې یې اوربند رامنځته شوه، خو دې جرګې هم لا تراوسه د دروازې د پرانېستلو لپاره کومه پرېکړه نه ده کړې.

## وړاندیزونه

۱- له پاکستان سره دې د افغانستان د یو مهم ګاونډي په توګه د افغانستان د ملي ګټو په پام کې نیولو سره سیاسي اړیکې ورغول شي ځکه د دواړو هېوادونو امنیت او ثبات د دوی په ښو او نږدې سیاسي اړیکو پورې اړه لري.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۲- افغان حکومت دې پاکستان په دې قانع کړي چې باثباته افغانستان د ټولو په ګټه دی او د افغانستان خاوره به هیڅکله د دوی پرخلاف استعمال نشي او دوی دې هم په افغانستان کې د هند سره له خپلې سیالۍ څخه ډډه وکړي.

۳- دواړه لوري دې ژر تر ژره د تورخم دروازه د هر ډول تګ او راتګ لپاره پرانېزي تر څو له یوې خو له مالي او اقتصادي زیانونو څخه مخنیوی وشي او له بلې لورې په دغه دروازه کې بند پاتې مسافر خپلو کورنو ته راستانه شي.

۴- همدارنګه د تورخم دروازې دواړو غاړو ته پښتانه قبایل پراته دي چې له همدې دروازې د خپلې سوداګرۍ او ډوډۍ پیداکېدو هڅه کوي، نو دواړه دولتونه باید هڅه وکړي چې پر دغه دروازه پرتې ستونزې ټولې حل کړي تر څو دغه پراته قبایل خپلې سوداګرۍ ته مخه کړي او ستونزې یې حل شي.

**مأخذونه**

[1] Thousands of trucks stuck at Afghan-Pakistan border crossing, Al-Arabiya News, 21 February ,2023, Access link: https://english.alarabiya.net/News/world/2023/02/21/Thousands-of-trucks-stuck-at-Afghan-Pakistan-border-crossing

[2] Pakistan, Afghanistan agrees to boost trade, lower border tensions, AlJAZEERA, 8 May 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/5/8/pakistan-afghanistan-agree-to-boost-trade-lower-border-tensions

[3] ګهیځ نیوز، تورخم دروازه په مشروط ډول د ټرانزیټ پرمخ ترل شوې، ۱۴۰۲ هـ.ل. کال د عقرب ۳۰مه، د لاسرسي وړ لینک: تورخم دروازه په مشروط ډول د ټرانزیټ پرمخ ترل شوې - ګهیځ(gaheez.af)

[4] Yenisafak, Pakistan, Afghanistan border forces agree to temporary ceasefire at key border crossing, 10 March 2025, Access link: https://www.yenisafak.com/en/news/pakistan-afghanistan-border-forces-agree-to-temporary-ceasefire-at-key-border-crossing-3699539

[5] Ido Gadi Raz, "Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal", Electronic Journal of Social and Strategic Studies, 31 May, 2023, P. 8, Access link: https://www.ejsss.net.in/uploads/172/14621_pdf.pdf

[6] Muhammad Bilal Iftikhar Khan, Syed Waqas Haider Bukhari and Marriyam Siddique, "Pakistan IEA Relations, A Game Theory Perspective", journal of Social & Organizational Matters, Vol 1 No 1, 2022, P. 31, Access link: https://www.researchgate.net/profile/Syed-Waqas-


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Bukhari/publication/373713256_Pakistan_IEA_Relations_A_Game_Theory_Perspective/links/66a100ab8be3067b4b154ce6/Pakistan-IEA-Relations-A-Game-Theory-Perspective.pdf

[7] Syed Muhammad Abbas, “Afghanistan-Pakistan in a security Puzzle (Past, Present and Future)”, Vienna International Institute for Middle East Studies, Nov 20, 2023, P. 19, Access link: https://viimes.org/wp-content/uploads/2024/02/Final-Paper-on-Afghanistan-Pakistan-Security-Puzzle-16.01.2024.pdf

8 Abid Hussain, “Taliban’s ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns”, ALJAZEERA, 17 Aug 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/8/17/talibans-ties-with-pakistan-fraying-amid-mounting-security-concerns

[9] Sneha Swaminathan, Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?, WIONEWS, 2 NOV, 2023, Access link: https://www.wionews.com/south-asia/explained-why-is-pakistan-asking-17-million-afghan-nationals-to-leave-its-territory-654025.

[10] Abid Hussain, “Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan”, Op. Cit.

11 Ibid.

[12] Vito Morisco, “From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan”, Op. Cit. P. 25.

13 Ibid.

14 Arsalan Bilal, Pakistan and the Afghan Taliban: Friends Becoming Foes, THE DIPLOMAT, April 28, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/04/pakistan-and-the-afghan-taliban-friends-becoming-foes/

[15] Vito Morisco, “From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan”, Austrian Institute for International Affairs, July 2023, P. 21, Access link: https://www.ssoar.info/ssoar/bitstream/handle/document/90184/ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf?sequence=1&isAllowed=y&lnkname=ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf and Amanullah Zarawar, Naveedullah Alokozay and Hamad Shoukat, “Pakistan and the 2.0 Taliban (Islamic Emirate of Afghanistan) Regime New Scene”, Cognizance Journal of Multidisciplinary Studies, Vol.4, Issue.8, August 2024, P. 252, Access link: https://www.researchgate.net/profile/Amanullah-Zarawar/publication/383816752_Media_Freedom_and_Censorship_A_Compa

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

rative_Study_of_Media_Freedom_under_First_and_Second_20_Taliban_Regime/links/66e84c680463442fa851d75d/Media-Freedom-and-Censorship-A-Comparative-Study-of-Media-Freedom-under-First-and-Second-20-Taliban-Regime.pdf

[16] Amanullah Zarawar, Naveedullah Alokozay and Muhammad Numan, "A Comparative Analysis of Pakistan Relations with Afghan Taliban and with the Previous Afghan Government (2014 - 2021): Security Dilemma Perspectives, Research Journal of Social Sciences & Economics Review, Vol. 5, Issue 3, 2024 (July – September), P. 17, Access link: https://rjsser.org.pk/ojs/index.php/rjsser/article/view/696/387

[17] د احصایې او معلوماتو ملي اداره، د ۱۴۰۱ هـ.ل. کال د سوداګرۍ احصایې کالنۍ، حمل ۱۴۰۲هـ.ل.
کال، د لاسرسي وړ لینک: http://nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2023/08/thrade-statics-pashtow.pdf

[18] د احصایې او معلوماتو ملي اداره، د ۱۴۰۲ هـ.ل. کال د سوداګرۍ احصایې کالنۍ، ۱۴۰۲ هـ.ل.
کال، د لاسرسي وړ لینک: http://nsia.gov.af/library

[19] Aljazeera, Pakistani and Afghan forces clash at vital border crossing, 3 Mar 2025, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2025/3/3/pakistani-and-afghan-forces-clash-at-vital-border-crossing#:~:text=Afghanistan%E2%80%99s%20Ministry%20of%20Interior%20Affairs%20confirmed%20on%20Monday,disputing%20its%20neighbour%E2%80%99s%20construction%20of%20a%20new%20borde

[20] Mohammad Zubair Khan. Pakistan-Afghanistan Trade: Political Economy Analysis, The Asia Foundation, Access link: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2016/06/Political_Economy_Analysis_Dr_Khan.pdf

[21] Aljazeera, Pakistani and Afghan forces clash at vital border crossing, Ibid.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**
ایمیل: info@csrsaf.org
وب سایت: www.csrsaf.org
شمېره: +93780618000
+93780618000



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)